DEPARTMENT OF LABOR AND INDUSTRY

[**Employers**: This is a sample employee notice employers can use to inform their employees about earned sick and safe time as required under Minnesota Statutes § 181.9447, subdivision 9. Instructions for completing this notice are in brackets. Delete all instructions before providing this to the employee.]

# د ناروغ او خونديتوب ګټل شوي وخت لپاره د کار کونکي خبرتيا

په مينيسوټا کې کار کونکي د ناروغ او خونديتوب د ګټل شوي وخت، چې يو ډول معاش لرونکی رخصت دی، مستحق دي. کار کونکي بايد د هر 30 ساعته کار لپاره چې دوی يې کوي د ناروغ او خونديتوب ګټل شوي وخت لږ تر لږه يو ساعت جمع (ترلاسه) کړي، په يو کال کې لږ تر لږه تر 48 ساعتو پورې. د کار کونکي د ناروغ او خونديتوب ګټل شوي وخت د جمع کيدو موخو لپاره يو کال دی:

If you are using a more generous accrual system or a front-loading system, edit the first sentence accordingly.Note here how you define the accural or benefit year for the employee. Examples include the calendar .year, year by work anniversary or another 12-month period

د ناروغ او خونديتوب د ګټل شوي وخت هغه ساعتونه چې د کار کونکي لپاره شتون لري، او همدارنګه هغه چې د تاديې تر ټولو وروستۍ موده کې کارول شوي، بايد د کار کونکي د عايد په هغه بيان کې وښودل شي چې دوی يې د تاديې هرې مودې په پای کې ترلاسه کوي.

د ناروغ او خونديتوب ګټل شوی وخت بايد د ساعت په سر په ورته نرخ کې تاديه شي کوم چې کار کونکي د خپلې دندې څخه ترلاسه کوي. د ناروغ او خونديتوب ګټل شوي وخت کارولو لپاره کار کونکي اړ ندي چې خپل کاري شفټ لپاره د يو بديل په لټه کې شي يا يې ومومي. دوی ښايي د ناروغ او خونديتوب ګټل شوی وخت، د خپل اړتيا پر بنسټ، د ټول کاري شفټ يا يوې برخې لپاره وکاروي.

د ناروغ او خونديتوب ګټل شوی وخت کارول کيدی شي لپاره:

- د يو کار کونکي رواني يا فيزيکي ناورغی، درملنې يا وقايوي پاملرنې؛
- د يو کار کونکي د کورنۍ د غړي رواني يا فيزيکي ناروغی، درملنې يا وقايوي پاملرنې؛
- د يو کار کونکي يا د دوی د کورنۍ د غړي د کورنۍ ناوړه ګټه اخستنې، جنسي تيري يا د چا لخوا د تعقيب کيدلو له امله غيرحاضرۍ؛
- د هوا يا عامه بيړني حالت له امله د يو کار کونکي د کار ځای تړل کيدلو يا د هوا يا عامه بيړني حالت له امله د دوی د کورنۍ د غړي د ښوونځي يا د پاملرنې مرکز تړل کيدلو؛ او
- کله چې د يوې روغتيايي ادارې يا د يو روغتيايي پاملرنې مسلکي لخوا پريکړه وشي چې يو کار کونکی يا د دوی د کورنۍ غړی د نورو خلکو په ساري ناروغۍ اخته کولو خطر سره مخ دی.

## د کار ګمارونکي خبرول، اسناد

يو کار ګمارونکی کولی شي د خپلو کار کونکو څخه وغواړي چې د ناروغ او خونديتوب ګټل شوي وخت کارولو څخه مخکې د امکان په صورت کې د اووه ورځو يوه پيشکي خبرتيا چمتو کړي (د بيلګې په توګه، کله چې يو کار کونکي يوه دمخه مهالويش شوې طبي ليدنيټه ولري). يو کار ګمارونکی د خپلو کار کونکو څخه دا غوښتنه هم کولی شي چې د دوی لخوا د ناروغ او خونديتوب د ګټل شوي وخت کارولو لامل په اړه ځيني اسناد چمتو کړي پداسې حال کې چې دوی دا د درې پرله پسې ورځو څخه زيات کاروي.

[The following is an example of an employer policy for employees to provide notice before using earned sick and safe time. Edit the following text to match your company’s policy]

که يو کار کونکی پلان لري چې د ناروغ او خونديتوب ګټل شوی وخت د يوې ليدنيټې، وقايوي پاملرنې يا کو بل اجازه لرونکي لامل لپاره وکاروي چې دوی ترې دمخه خبر وي، څومره چې دمخه ممکن وي [name or position] دې د [phone, email or other

[communication]له لارې خبر کړي، مګر لږ تر لږه
[number between one and seven] ورځې د مخه. پداسې شرایطو کې کله چې یو کار کونکی نشي کولی پیشکي خبرتیا چمتو کړي، کار کونکی باید [name or position] سره په [phone, email or other communication] اړیکه ونیسي هر کله چې دوی خبر شي چې دوی به د کار کولو توان ونلري.

## غچ اخستنه، د شکایت درج کولو حق

د یو کار ګمارونکي لپاره دا د قانون خلاف عمل دی چې د ناروغ او خوندیتوب ګټل شوي وخت کارولو یا غوښتنه کولو لپاره یا په بل ډول د قانون لاندې د دوی د ناروغ او خوندیتوب ګټل شوي وخت کارولو لپاره د یو کار کونکي څخه غچ واخلي، یا پر وړاندې یې منفي عمل وکړي. که یو کار کونکی پدې باور وي چې د دوی پر وړاندې غچ اخستل شوی یا د دوی د ناروغ او خوندیتوب ګټل شوی وخت په نامناسبه توګه رد شوی، دوی کولی شي د مینیسوټا د کارګر او صنعت څانګې سره یو شکایت درج کړي. دوی کولی شي د ناورغ او خوندیتوب ګټل شوي وخت څخه سرغړونو لپاره په محکمه کې یو مدني ګام هم ثبت کړي.

## د نورو معلوماتو لپاره

د مینیسوټا د کارګر او صنعت څانګې سره په 651-284-5075 یا esst.dli@state.mn.us اړیکه ونیسئ یا په dli.mn.gov/sick-leave د څانګې د ناروغ او خوندیتوب ګټل شوي وخت ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ.

دا سند ستاسو د کار موندنې په اړه د مهمو معلوماتو لرونکی دی. په دې ژبه کې د دې معلوماتو ترلاسه کولو لپاره کیڼ لور ته ورکړل شوې بکسه چیک یا په نښه کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| | Spanish/Español | Este documento contiene información importante sobre su empleo. Marque la casilla a la izquierda para recibir esta información en este idioma. |
| | Hmong/Hmoob | Daim ntawv no muaj cov xov tseem ceeb hais txog thaum koj ua hauj lwm. Khij lub npauv ntawm sab laug yog koj xav tau cov xov tseem ceeb no txhais ua lus Hmoob. |
| | Vietnamese/Việt ngữ | Tài liệu này chứa thông tin quan trọng về việc làm của quý vị. Đánh dấu vào ô bên trái để nhận thông tin này bằng Việt ngữ. |
| | Simp. Chinese/简体中文 | 本文件包含与您的雇用相关的重要信息。勾选左边的方框将接收以这种语言提供的信息。 |
| | Russian/русский | Данный документ содержит важную информацию о вашем трудоустройстве. Отметьте галочкой квадрат слева для получения этой информации на данном языке. |
| | Somali/Soomaali | Dukumentigan waxaa ku qoran macluumaad muhiim ah oo ku saabsan shaqadaada. Calaamadi sanduuqan haddii aad rabto inaad macluumaadkan ku hesho luqaddan. |
| | Laotian/ພາສາລາວ | ເອກະສານນີ້ມີຂໍ້ມູນທີ່ສຳຄັນກ່ຽວກັບການຈ້າງງານຂອງທ່ານ. ກວດເບິ່ງກ່ອງທີ່ຢູ່ເບື້ອງຊ້າຍເພື່ອຮັບຂໍ້ມູນນີ້ໃນພາສານີ້. |
| | Korean/한국어 | 이 문서에는 귀하의 고용 형태에 관련된 중요한 정보가 담겨있습니다. 이 언어로 이 정보를 받기를 원하시면 왼쪽 상자에 체크하여 주세요. |
| | Tagalog/Tagalog | Ang dokumentong ito ay nagtataglay ng mahalagang impormasyon tungkol sa iyong pagtatrabaho. Lagyan ng tsek ang kahon sa kaliwa upang matanggap ang impormasyong ito sa wikang ito. |
| | Oromo/Oromoo | Waraqaan kun waayee hojii keetii odeeffannoo barbaachisoo ta'an qabatee jira. Saaxinnii karaa bitaatti argamu kana irratti mallattoo godhi yoo afaan Kanaan barreeffama argachuu barbaadde. |
| | Amharic/አማርኛ | ይህ ዶኩመንት አቀጣጠርዎን በሚመለከት አስፈላጊ መረጃ የያዘ ነው። ይህንን ዶኩመንት በስተግራ በኩል ባለው ቋንቋ ተተርጉሞ እንዲሰጦት ከፈለጉ በዛው በስተግራ በኩል ባለው ሳጥን ውስጥ ምልክት ያድርጉ። |
| | Karen / ကညီကျိာ် | လံာ်တီလံာ်မီတခါအံၤပဉ်ယှာ်တၢ်ဂ့ၢ်တၢ်ကျိၤအကါဒိၣ်လၢအဘၣ်ယးဒီးနတၢ်ဖံးတၢ်မၤန့ၣ်လီၤ. တိၢ်နီၣ်တၢ်ဒၢလၢအစုစ့ၣ်တခၢပၤလၢတၢ်ကဒိးန့ၢ်တၢ်ဂ့ၢ်တၢ်ကျိၤလၢကျိာ်တခါအံၤအဂီၢ်တက့ၢ်. |
| | Arabic/ العربية | يحتوي هذا المستند على معلومات مهمة حول عملك. ضع علامة في المربع على اليمين للحصول على هذه المعلومات في هذه اللغة. |